لاندې پټې ته واستوئ: د خپل ماشوم ښوونځی

**د 2025-2026 کال د زده کړې امتیاز او د اوړي د EBT غوښتنلیک** جون 2025

هرې کورنۍ لپاره یو غوښتنلیک بشپړ کړئ. مهرباني وکړئ قلم وکاروئ (پنسل نه). 1 پاڼه

## 1 پړاو

**ټول هغه ماشومان چې نوي ګرځېدونکي کوچنیان او تر دولسم ټولګي پورې زده کوونکي وي او د دولسم ټولګي په ګډون زده کوونکي لست کړئ. که چېرې نورو نومونو لپاره اضافي ځای ته اړتیا وي، بله پاڼه ضمیمه کړئ.**

د **کورنۍ د غړي** تعریف: "هر هغه څوک چې تاسو سره ژوند کوي او عاید او لګښتونه شریکوي، حتی که تاسو سره اړیکه هم ونلري." کوم ماشومان چې د پالونکي اداري پاملرنه کې وي او کوم ماشومان چې د **بې کوره** یا **تښتېدونکي** تعریف پوره کوي د S-EBT په شرایطو برابر دي.

| د ماشوم نوم | MI | د ماشوم تخلص | ښوونځی | ټولګی | زده کوونکی؟ هو | نه | ټول پټلي کېدونکي موارد | د پالونکي اداري | مشر پیل | بې کوره یا تښتېدونکی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | ☐ | ☐ | ☐ |
| | | | | | | | | ☐ | ☐ | ☐ |
| | | | | | | | | ☐ | ☐ | ☐ |
| | | | | | | | | ☐ | ☐ | ☐ |
| | | | | | | | | ☐ | ☐ | ☐ |

## 2 پړاو

**آیا د کورنۍ کوم غړي (ستاسو په ګډون) اوسمهال د مرستې په لاندې یو یا ډېرو پروګرامونو کې ګډون کوي: SNAP یا RI Works؟**

**که چېرې نه، > 3** پړاو ته لاړ شئ

که چېرې هو، د کورنۍ یو غړي په SNAP یا RI Works کې ګډون کوي، د SNAP یا د RI Works د قضیې شمېره دلته ولیکئ او بیا 4 پړاو ته لاړ شئ *(3 پړاو مه بشپړوئ).*

**د قضیې شمېره:**

پدې ځای کې یوازې د قضیې شمېره ولیکئ.

## 3 پړاو

**د کورنۍ د ټولو غړو عاید لست او په اړه یې راپور ورکړئ (که چېرې مو 2 پړاو ته د هو ځواب ورکړی وي دا پړاو پرېږدئ)**

آیا داده نه یاست چې دلته کوم عاید شامل کړئ؟

پاڼه واړوئ او لا ډېرو مالوماتو لپاره د "د عاید سرچینې" سرلیک لرونکو چارټونو ته بیاکتنه وکړئ.

"ماشومانو لپاره د عاید سرچینې" چارټ به تاسو سره د ماشومانو د عاید برخي کې مرسته وکړي.

د "لویانو لپاره د عاید سرچینې" چارټ به تاسو سره د کورنۍ د

**A. د ماشوم عاید**

ځینې وختونه د کورنۍ ماشومان عاید ترلاسه کوي. مهرباني وکړئ ټولټال او کسرونه) چې د کورنۍ د ټولو ماشومانو غړو لخوا ترلاسه شوي وي او دلته په 1 پړاو کې لست شوي وي، شامل کړئ.

| د ماشوم عاید | اونیز | دوه اونیز | 2x میاشتنی | میاشتنی | کلنی |
|---|---|---|---|---|---|
| $ | | | | | |

څو ځلې؟

**B. د کورنۍ ټول لوی غړي** (هر هغه څوک چې تاسو سره ژوند کوي او عاید او لګښتونه شریکوي، حتی که تاسو سره اړیکه هم ونلري، ستاسو په ګډون.)

د کورنۍ ټول هغه غړي لست کړئ چې په 1 پړاو کې لست شوي نه وي (پخپله ستاسو په ګډون) حتی که هغوی عاید هم ترلاسه نه کوي. د کورنۍ د هر لست شوي غړي لپاره، که هغوی عاید ترلاسه کوي، د هرې سرچینې لپاره یوازې په بشپړو ډالرو کې (سینټ نه) د ټولټال ناخالص عاید (له مالیاتو او کسرونو څخه دمخه) په اړه راپور ورکړئ. که چېرې هغوی له کومې سرچینې څخه عاید نه ترلاسه کوي، '0' ولیکئ. که چېرې تاسو '0' ولیکئ یا کوم ځای سپین پرېږدئ، تاسو تصدیق کوئ (ژمنه کوئ) چې راپور ورکولو لپاره هېڅ عاید نشته دی.

| د کورنۍ د لویو غړو نومونه (نوم او تخلص) | د کار عایدات | اونیز | دوه اونیز | 2x میاشتنی | میاشتنی | کلنی | عامه مرسته/ د ماشوم ملاتړ/نفقه | اونیز | دوه اونیز | 2x میاشتنی | میاشتنی | کلنی | د تقاعد پیسې/تقاعد، SS، د SSI VA ګټې، نور ټول عاید | اونیز | دوه اونیز | 2x میاشتنی | میاشتنی | کلنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ |
| | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ |
| | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ |
| | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ | $ | ○ | ○ | ○ | ○ | ○ |

څو ځلې ترلاسه کیږي؟ (د کار عایدات، عامه مرسته، د تقاعد پیسې)

**د 2025-2026 کال د زده کړې امتیاز او د اوړي د EBT غوښتنلیک**

هرې کورنۍ لپاره یو غوښتنلیک بشپړ کړئ. مهرباني وکړئ قلم وکاروئ (پنسل نه).

ټولو لویو غړو برخې کې مرسته وکړې.

یادداښت: دوه اونیز هر دوه اونۍ وروسته

$ ◯ ◯ ◯ ◯ ◯ | $ ◯ ◯ ◯ ◯ ◯ | $ ◯ ◯ ◯ ◯ ◯

**د کورنۍ ټولټال غړي (ماشومان او لویان - 1 پړاو او 3 پړاو)**

## 4 پړاو د اړیکې مالومات او د لوی کس لاسلیک. بشپړه شوې فورمه لاندې پتې ته وسپارئ: د خپل ماشوم ښوونځی

"زه تصدیق (ژمنه) کوم چې پدې غوښتنلیک کې ټول مالومات رښتیا او سم دي او د ټول عاید په اړه راپور ورکړل شوی دی. زه تصدیق کوم چې پدې غوښتنلیک کې شامل هېڅ یو کس په بل ایالت یا ITO کې د اوړي د EBT امتیازونه نه ترلاسه کوي. زه پوهېږم چې دا مالومات د فدرال بودجې د ترلاسه کولو په تړاو ورکړل شوي دي او د ایالت مقامات به دا مالومات تائید (چېک) کړي. زه خبر یم که چېرې زه په عمدي ډول ناسم مالومات وړاندې کړم، زما ماشومان به د S-EBT ګټې له لاسه ورکړي، او زه به د ایالت تر نافذه او فدرال جنايي قوانينو لاندې محکمه شم."

د فورمې لاسلیک کونکي لوی کس چاپ شوی نوم

د لوی کس لاسلیک

د نن ورځې نېټه

پُستي پته

د اپارتمان #

ښارګوټی یا ښار

ایالت

پُستي کوډ

د ورځې ټیلیفون

**د 20252026 کال د زده کړې امتیاز او د اوړي د EBT غوښتنلیک**

| د عاید سرچینې | | | ماشومانو لپاره د عاید بېلګې |
|---|---|---|---|
| **د کار عایدات** | **عامه مرسته/نفقه/د ماشوم ملاتړ** | **د تقاعد پېسې/تقاعد/ د عاید ټولې نورې سرچینې** | |
| • معاش، اجوره، نغدي بخششونه، لاربښووني، حق الزحمې<br>• آزاد کاروبار له لارې ترلاسه شوی خالص عاید (کرونده یا کاروبار)<br>که چېرې تاسو د متحده ایالاتو په پوځ کې یاست:<br>• اصلي معاش او نغدي بخششونه (د جګړې معاش، FSSA، یا د شخصي استوګنځي تخصیصات په کې مه شاملوئ)<br>• له پوځي اډې څخه بهر استوګنځي، خواړو، او جامو تخصیصونه | • د بې روزګارۍ امتیازونه<br>• د کارکونکو معاش<br>• بشپړونکی امنیتي عاید (SSI)<br>• د ایالتي یا ځایي حکومت د نغدو پیسو مرسته<br>• د نفقې تادیات<br>• د ماشوم د ملاتړ تادیات<br>• د پخوانیو سرتېرو امتیازونه<br>• د اعتصاب امتیازونه | • ټولنیز امنیت/معلولیت (د رېل پټلۍ د تقاعد او د تورو سږو د ناروغۍ د امتیازونو په ګډون)<br>• د شخصي تقاعدونو یا معلولیت امتیازونه<br>• له وجهي صندوق یا شتمنیو څخه ترلاسه شوی عاید<br>• کلني قسطونه<br>• د پانګونې عاید<br>• ترلاسه شوې ګټه<br>• د کرایې عاید<br>• کورنۍ څخه بهر د نغدو پیسو منظم تادیات | • یو ماشوم د بشپړ وخت یا پس له وخته منظمه دنده لري او د هغې له لارې معاش یا اجوره ترلاسه کوي<br>• یو ماشوم ړوند یا معلول دی او د ټولنیز امنیت امتیازونه ترلاسه کوي<br>• یو والد معلول، تقاعد شوی، یا وفات شوی دی، او د هغه ماشوم د ټولنیز امنیت امتیازونه ترلاسه کوي<br>• یو ملګری یا د کورنۍ لرې غړی په منظم ډول سره ماشوم ته د جیب خرڅ پیسې ورکوي<br>• یو ماشوم د یو شخصي تقاعد له بودجې، کلني قسط، یا وجهي صندوق څخه منظم عاید ترلاسه کوي |

**اختیاري** | **د ماشومانو توکمیز او نژادي هویتونه. دا مالومات محرم ساتل کیږي او د 1974** کال د محرمیت قانون لخوا خوندي کیږي.

مور او پلار چې یاتسو د ماشوم د توکم او نژاد په اړه د مالوماتو غوښتنه وکړو. دا مالومات مهم دي او د دې ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې موږ خپلې ټولنې ته په بشپړه توګه چوپړتیا کوو. دې برخې ته ځواب ورکول اختیاري دي او S-EBT شرایطو ته ستاسو د ماشوم په برابروالي باندې اغېزه نه کوي.

**توکم** (یو حلقه کړئ): ☐ هسپانیک یا لاتین (د توکم پام کې نیولو څخه پرته د کیوبایي، مکسیکویي، پورتو ریکویي، سویلي یا مرکزي امریکا، یا بل هسپانوي کلتور یا اصل لرونکی کس) ☐ هسپانیک یا لاتین ندی

**نژاد** (یو یا ډېر وټاکئ): ☐ امریکایي سور پوستی یا د الاسکا اصلي اوسیدونکی ☐ آسیایي ☐ تور پوستی یا افریقایي امریکایي ☐ د هواوې اصلي اوسیدونکی یا د آرام ټاپو بل ☐ سپین پوستی

**یوازې د ښوونځي کارولو لپاره - دې کرښې څخه لاندې مه لیکئ**

***دا برخه باید*** **د ایالت رسمي ټاکونکی مقام (DO)** ***بشپړه کړي. (یوازې په هغه صورت کې چې کلني عاید ته تبادله کړئ که چېرې په 3 پړاو کې د عاید مختلفې فریکونسۍ ګانې لست شوې وي.)***

**د کلني عاید تبادله: اونیز x 52 ♦ هر 2 اونۍ x 26 ♦ میاشت کې دوه ځلې x 24 ♦ میاشتنۍ x 12**

مستقیم تائید شوی (DC) **د ایالت د DC لست پر بنسټ** لکه څرنګه د لاندې مورد په شرایطو برابر وي: ☐ SNAP ☐ TFA ☐ OT ☐ **FM (وړیا** Medicaid) ☐ **RM (کم شوی** Medicaid). د DC لست کې د تایید کېدو نېټه: ____________________

☐ SNAP/RI Works کورنۍ د قضیې د لاس پواسې لیکل شوې شمېرې اسناد وړاندې کړې (باید د DO لخوا تائید شي) ☐ پالل شوی ماشوم ☐ Head Start **تائید شوی دی** ☐ بې کوره یا تښتېدلی **تائید شوی دی**

**U د کورنۍ عاید:** د کورنۍ ټولټال عاید: ____________ د ____________ کورنۍ په اندازې: ____________

***د غوښتنلیک ټاکل:*** ☐ S-EBT له > 130% عاید سره ☐ S-EBT له 130_< 185% عاید سره ☐ غوښتنلیک رد شوی دی

د خبرتیا د لیږلو نېټه: ____________ د DO لاسلیک: ____________ نېټه: ____________

**د مالوماتي بیانیې کارول**

_______________________________________

_______________________________________

## د 20252026 کال د زده کړې امتیاز او د اوړي د EBT غوښتنلیک

د Richard B. Russell National School ښوونځي د غرمې ډوډۍ قانون غوښتنه کوي چې موږ به د دې غوښتنلیک مالومات وکاروو ترڅو مشخص شي چې د اوړي د EBT امتیازونو په شرایطو باندې څوک برابر دي. موږ یوازې بشپړ شوې فورمې تائیدولی شو. موږ به ستاسو په شرایطو باندې د برابروالي مالومات د زده کړې، روغتیا، او تغذیې اړوند پروګرامونو سره شریک کړو ترڅو هغوی سره ستاسو کورنۍ ته د پروګرام د امتیازونو په لیږد کې مرسته وکړو. بررسي کونکي او قانون نافذونکي به هم ستاسو مالومات وکاروي ترڅو د پروګرام د قوانینو مراعتولو څخه ډاډ ترلاسه شي. ځېنې ماشومان ښایي غوښتنلیک څخه پرته د اوړي د Summer په شرایطو باندې برابر وي. مهرباني وکړئ خپل ایالت یا ITO سره اړیکه ونیسئ ترڅو یو پالل شوي ماشوم، او هغو ماشومانو لپاره د اوړي EBT ترلاسه کړئ چې بې کوره، مهاجر، یا تښتېدلي دي.

د راډ ټاپو د اوړي EBT پروګرام په اړه د لا ډېرو مالوماتو لپاره، د RI DHS وېب پاڼې څخه لیدنه وکړئ:

https://dhs.ri.gov/programs-and-services/supplemental-nutrition-assistance-program-snap/supplemental-nutrition-10

**بشپړه شوې فورمه لاندې پتې ته وسپارئ: د خپل ماشوم ښوونځی**

**د اړیکې لاندې مالومات یوازې د تبعیض د شکایت ثبتولو لپاره دي**

د فدرال مدني حقونو د قانون او د متحده ایالاتو د کرنې د وزارت (USDA) د مدني حقونو د مقرراتو او پالیسېو سره سم، دا نهاد د توکم، رنګ، اصلي هیواد، جنسیت (د جنډر د هویت او جنسي تمایل په ګډون)، معلولیت، عمر، یا غچ اخستلو یا د پخواني مدني حقونو د فعالیت لپاره د انتقام اخستلو پر بنسټ له تبعیض څخه منع شوی دی. د دې پروګرام په اړه به مالومات له انګلیسي ژبې څخه پرته په نورو ژبو کې هم د لاسرسي وړ وي. معلول کسان چې د دې پروګرام په اړه د مالوماتو ترلاسه کولو لپاره د افهام او تفهیم بدیلو وسیلو (لکه برېل، غټ چاپ، آډیو کسټ، امریکایي اشاروي ژبه) ته اړتیا لري، باید له مسؤل ایالت یا هغې ځایي ادارې سره چې دغه پروګرام اداره کوي یا د USDA په نښه شوي مرکز سره په 720-2600 (202) شمېرې (غږیز او TTY) یا له USDA سره د فدرال ریلې چوپړتیاوو له لارې په 8339-877 (800) شمېرې اړیکه ونیسي.

**د پروګرام د تبعیض شکایت ثبتولو لپاره، یو شکایت کونکی باید د AD-3027 فورمه چې د USDA پروګرام د تبعیض د شکایت فورمه دی بشپړه کړي**

**چې په آنلاین ډول په :** **https://www.usda.gov/sites/default/files/documents/ad-3027.pdf**, ، د USDA له هر دفترڅخه، له 632-9992 (866) شمېرې سره د اړیکې نیولو، یا د USDA پتې ته د یو لیک په لیکلو سره ترلاسه کیدلی شي. پدې لیک کې باید د شکایت کونکي نوم، پته، د ټیلیفون شمېره او له کافي جزئیاتو سره د تبعیضي کړنې لیکلې شرحه موجوده وي ترڅو د مدني حقونو مرستیال سکرتر (ASCR) ته د ادعا شوو مدني حقونو د سرغړونې د ماهیت او نېټې په اړه مالومات برابر کړي. بشپړه شوې AD-3027 فورمه باید USDA ته په لاندې ډول سره وسپارل شي:

* پُست: د متحده ایالاتو د کرنې وزارت
د مدني حقونو د مرستیال سکرتر دفتر
1400 Independence Avenue, SW
Washington, D.C. 20250-9410

فکس: 256-1665 (833) یا 7442-690 (202)؛ یا

برېښنالیک: Program.Intake@usda.gov

*دې پتې ته غوښتنلیکونه مه رالیږئ، یوازې د تبعیض شکایتونه راولیږئ.

دا اداره د مساوي فرصت برابرونکې ده.

## د دې فورمې د بشپړولو څرنګوالی

*مهرباني وکړئ دا لارښووني تعقیب کړئ ترڅو تاسو سره د S-EBT امتیازونو د غوښتنلیک په ډکولو کې مرسته وکړي. تاسو باید هرې کورنۍ لپاره یوازې یو غوښتنلیک وسپارئ، حتی که ستاسو ماشومان په تعلیمي حوزې کې له یو څخه ډیرو ښوونځیو کې زده کړه کوي. غوښتنلیک باید په بشپړه توګه ډک شي ترڅو د S-EBT امتیازونو لپاره ستاسو د ماشومانو په شرایطو باندې برابروالی مشخص شي. مهرباني وکړئ دا لارښووني په ترتیب سره تعقیب کړئ! د لارښوونو هر پړاو د غوښتنلیک پړاونو ته ورته دی. که چیرې په هر وخت کې تاسو ډاډه نه اوسئ چې بیا څه وکړئ، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. یادداښت: که تاسو د کډه کولو نیت لرئ یا مو پدې وروستیو کې کډه کړې وي، مهرباني وکړئ د امتیازونو ترلاسه کولو لپاره په هغه ایالت کې غوښتنلیک وسپارئ چیرې چې ستاسو ماشوم له روان اوړي څخه سمدلاسه دمخه تعلیمي کال بشپړوي.*

**مهرباني وکړئ د غوښتنلیک ډکولو پرمهال قلم وکاروئ (پنسل نه) او هڅه وکړئ چې په روښانه توګه یې چاپ کړئ.**

### 1 پړاو: ټول ماشومان، نوي ګرځیدونکي کوچنیان، او تر دولسم ټولګي پورې زده کونکي وي او د دولسم ټولګي په ګډون زده کونکي لست کړئ

موږ ته وواياست چې ستاسو په کورنۍ کې څومره کوچنیان/نوي ګرځیدونکي ماشومان، ماشومان ښوونځي ته نه ځي، او ستاسو په کورنۍ کې د ښوونځي څومره زده کونکي ژوند کوي. اړینه نده چې هغوی تاسو سره اړیکه ولري ترڅو ستاسو د کورنۍ برخه شي. **زه باید څوک دلته لست کړم؟** د دې برخې د ډکولو پرمهال، مهرباني وکړئ د خپلې کورنۍ ټول هغه غړي چې لاندې شرایط پوره کوي شامل کړئ:

- هغه ماشومان چې عمرونه یې 18 کاله یا لږ وي او ستاسو د کورنۍ د عاید له لارې ملاتړ کیږي؛
- د پالنې تر یو ترتیب لاندې، د یوې ایالتي/ځایي اداري یا د یوې محکمې له لارې ستاسو په پاملرنه کې وي، یا د بې کوره یا تښتېدونکي ځوان په شرایطو برابر وي؛
- هغه زده کونکي چې د ښوونځي د غرمې ډوډۍ ملي پروګرام (NSLP) کې ګډون کونکي ښوونځي کې *(د عمر پام کې نیولو پرته)* شامل وي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| **A)** د هر ماشوم نوم لست کړئ. د هر ماشوم نوم چاپ کړئ. هر ماشوم لپاره د غوښتنلیک یوه کرښه وکاروئ. د نومونو د چاپ پرمهال، مهرباني وکړئ روښانه یې چاپ کړئ. که چیرې ځای نلرئ ودریږئ. که غوښتنلیک کې د شته کرښو پرتله ډېر کوچنیان شتون ولري، نو دویمه پانه د نورو ماشومانو لپاره (یا یو دویم غوښتنلیک که چیرې یې په برېښنایي ډول بشپړوئ) له ټولو اړینو مالوماتو سره ضمیمه کړئ دا په 3 پړاو کې په لویانو باندې هم پلي کیږي. "MI" د "منځني نوم د لومړي توري" مخفف دی. د "MI" برخه کې د هر ماشوم د منځني نوم لومړی توری چاپ کړئ. | **B)** آیا ماشوم یو زده کونکی دی؟ د ښوونځي نوم (اختیاري)، ټولګی لست کړئ او د "زده کونکي" سرلیک ستون لاندې "هو" یا "نه" انتخاب کړئ ترڅو موږ ته ووایاست چې کوم ماشومان په تعلیمي حوزې کې ښوونځي ته ځي. که چیرې "هو" انتخاب شوی وي نو د "ټولګي" ستون کې د ټولګي کچه ولیکئ. | **C)** آیا تاسو پالل شوي ماشومان لرئ؟ که چیرې کوم لست شوي ماشومان پالل شوي ماشومان وي، د ماشوم د نوم تر څنګ د "پالل شوي ماشوم" باکس په نښه کړئ. که چیرې تاسو یوازې پالل شوو ماشومانو لپاره غوښتنلیک ورکوئ، د **1** پړاو **بشپړولو څخه وروسته، 4** پړاو **ته ولاړ شئ.** *کوم پالل شوي ماشومان چې تاسو سره ژوند کوي ښایي ستاسو د کورنۍ د غړو په توګه حساس شي او باید ستاسو په غوښتنلیک کې لست شي.* که چیرې تاسو د پالل شوو او غیر-پالل شوو ماشومانو لپاره غوښتنلیک ورکوئ، 3 پړاو ته ولاړ شئ. *یادداښت: منل شوي ماشومان پالل شوي ماشومان نه ګڼل کیږي. پالل شوی ماشوم له هغه کوچني څخه عبارت ده چې د ایالت په حضانت کې وي او ایالت لخوا یو جواز لرونکي لوی کس ته سپارل شوي وي چې د نوموړي ماشوم د والد یا سرپرست پر ځای د هغه پالنه کوي.* | **D) آیا د Head Start پروګرام کې کوم ماشومان بې کوره یا تښتېدلي دي؟** که چیرې تاسو باور لرئ چې پدې برخه کې کوم لست شوی ماشوم دا شرحه پوره کوي، د ماشوم د نوم تر څنګ د "Head Start یا بې کوره/تښتېدلي" باکس انتخاب کړئ او د *غوښتنلیک ټول پړاونه بشپړ کړئ.* د بې کوره، تښتېدلي او Head Start وضعیت باید د پروګرام له یو مناسب کارکونکي سره تائید شي. که چیرې وضعیت تائید نشي، ایالت به د عاید-پر بنسټ غوښتنلیک بشپړولو لپاره له تاسو سره اړیکه ونیسي. تاسو ښایي همدا اوس د عاید د مالوماتو چمتو کول انتخاب کړئ ترڅو راتلونکي کې تاسو سره د ایالت لخوا د احتمالي اړیکې نیولو د اړتیا مخنیوی وکړئ. |

### 2 پړاو: آیا د کورنۍ کوم غړي اوسمهال په SNAP یا RI Works کې ګډون کوي؟

**که چیرې ستاسو په کورنۍ کې کوم کس (ستاسو په ګډون) اوسمهال د مرستې په یو یا ډېرو لاندې لست شوو پروګرامونو کې ګډون کوي، ستاسو ماشومان د S-EBT په شرایطو برابر دي:**

- د بشپړونکي تغذيي د مرستې پروګرام (SNAP)
- RI Works

| | |
|---|---|
| **A)** که چیرې ستاسو په کورنۍ کې هېڅوک په پورته لست شوو پروګرامونو کې ګډون نه کوي: **• نو 2 پړاو خالي پرېږدئ او 3 پړاو ته ولاړ شئ.** | **B) که چیرې ستاسو په کورنۍ کې کوم کس په SNAP یا RI Works کې ګډون کوي:** • د SNAP یا RI Works د قضیې شمېره ولیکئ. تاسو باید یوازې د قضیې شمېره چمتو کړئ. که چیرې تاسو له دغه پروګرامونو څخه په یوه کې ګډون کوئ او خپل د قضیې په شمېرې نه پوهیږئ، DHS سره اړیکه ونیسئ. • **4** پړاو ته ولاړ شئ. |

### 3 پړاو: د کورنۍ د ټولو غړو د عاید په اړه راپور ورکړئ

**زه د خپل عاید په اړه څنګه راپور ورکړم؟**

- د **"د عاید سرچینې"** او **"ماشومانو لپاره د عاید بېلګې"** سرلیک لرونکي چارټونه وکاروئ، چې د غوښتنلیک د فورمې شا ته چاپ شوي دي، ترڅو څرګنده کړئ چې آیا ستاسو کورنۍ عاید لري ترڅو په اړه یې راپور ورکړئ.
- ټولو مبلغونو په اړه یوازې په ناخالص عاید کې راپور ورکړئ. ټول عاید په اړه په ډالرو کې راپور ورکړئ. سینټونه په کې مه شاملوئ.
  - ناخالص عاید مالیاتو څخه **دمخه** ټولټال ترلاسه شوي عاید څخه عبارت ده.
  - ډیري خلک عاید د هغه مبلغ په توګه په پام کې نیسي چې هغوی یې "کور ته وړي" نه د ټولټال "ناخالص" مبلغ په توګه. ډاډ ترلاسه کړئ هغه عاید چې تاسو یې په اړه پدې غوښتنلیک کې راپور ورکوئ د مالیاتو د تادیې، د بیمې د حق، یا نور مبلغونو لپاره چې ستاسو معاش څخه اخستل شوي وي، کم شوی نه وي.
- په هر هغه ځای کې چیرې چې راپور ورکولو لپاره عاید شتون ونلري"0" ولیکئ. د عاید هر هغه ځای چې تش یا سپین پرېښودل شوي وي هغه هم د صفر په توګه شمېرل کیږي. که چیرې تاسو '0' ولیکئ یا کوم ځای سپین پرېږدئ، تاسو تصدیق کوئ (ژمنه کوئ) چې راپور ورکولو لپاره هېڅ عاید نشته دی. که ځایي مقامات مشکوک شي چې ستاسو د کورنۍ د عاید په اړه ناسم راپور ورکړل شوی دی، ستاسو غوښتنلیک به وڅېړل شي.
- د هر خالي ځای ښې خوا ته د چیک باکسونو په کارولو سره په نښه کړئ چې د عاید هر ډول څو ځلې ترلاسه شوی دی.

**د دې فورمې د بشپړولو لارښوونې**

## A.3. ماشومانو لخوا ترلاسه شوي عاید په اړه راپور ورکړئ

**A) ماشومانو لخوا د ټول ګټل شوي یا ترلاسه شوي عاید په اړه راپور ورکړئ.** ستاسو په کورنۍ کې په 1 پړاو کې لست شوو ټولو ماشومانو لپاره د ترکیب شوي ناخالص عاید په اړه په هغه باکس کې راپور ورکړئ چې "د ماشومانو عاید" په نښه شوی دی. د پالل شوو ماشومانو عاید یوازې په هغه صورت کې حساب کړئ که چېرې تاسو هغوی لپاره د خپلې کورنۍ له پاتې غړو سره په ګډه غوښتنلیک سپارئ.
***د ماشوم عاید څه دی؟*** د ماشوم عاید له هغو پیسو څخه عبارت ده چې ستاسو کورنۍ څخه بهر ترلاسه کیږي او مستقیماً ستاسو ماشومانو ته اداء کیږي. ډیري کورنۍ د ماشومان عاید نلري.

## B.3. د لویانو لخوا ګټل شوي عاید په اړه راپور ورکړئ

**زه باید څوک دلته لست کړم؟**

- د دې برخې د ډکولو پرمهال مهرباني وکړئ د خپلې کورنۍ ټول هغه لویان شامل کړئ چې تاسو سره ژوند کوي او عاید او لګښتونه شریکوي، *حتی که هغوی تاسو سره اړیکه هم نلري او حتی که هغوی خپل عاید هم نه ترلاسه کوي.*
- ***لاندې کسان مه شاملوئ:***
  - o هغه کسان چې تاسو سره ژوند کوي مګر ستاسو د کورنۍ د عاید لخوا نه ملاتړ کیږي او ستاسو کورنۍ ته عاید نه ورکوي.
  - o نوي کرځېدونکي کوچنیان، ماشومان او زده کونکي چې له وړاندې څخه په **1** پړاو **کې لست شوي وي.**

| | | |
|---|---|---|
| **B)** د کورنۍ د لویو غړو نوم‌ونه لست کړئ. د کورنۍ د هر غړي نوم د "د کورنۍ د لویانو نوم‌ونه (نوم او تخلص)" باکس کې چاپ کړئ. *د کورنۍ هغه غړي مه لست کوئ چې تاسو په **1 پړاو** کې لست کړي دي.* که چېرې په **1** پړاو **کې یو لست شوی ماشوم عاید ولري، د 3** پړاو، **A** برخې **لارښووني تعقیب کړئ.** | **C)** کار څخه ګټل شوي عاید په اړه راپور ورکړئ. په غوښتنلیک کې د " کار څخه ګټل شوي عاید" ځای کې له کار څخه د ټول ګټل شوي عاید په اړه راپور ورکړئ. دا معمولاً هغه پیسې دي چې په دندو کې کار کولو څخه ترلاسه کیږي. که تاسو آزاد کاروبار لرئ یا د یو فارم مالک یاست، تاسو به د خپل خالص عاید په اړه راپور ورکوئ. خالص عاید ستاسو له هغه عاید څخه عبارت ده چې هغه څخه مالیات او کسرونه کم شوي وي.<br><br>• ***که چېرې زه څو دندې ولرم نو څه؟*** *هره دنده په جلا توګه لست کړئ او خپل نوم او د هرې دندې څخه ترلاسه شوی عاید په یوې نوې کرښه کې ولیکئ. د اړتیا په صورت کې بله پانه اضافه کړئ.*<br><br>• ***که چېرې زه آزاد کاروبار ولرم نو څه؟*** *د خپل کاروبار عاید د یو خالص مبلغ په توګه لست کړئ. دا خالص مبلغ ستاسو د کاروبار له ناخالصې ګټې (عاید) څخه د هغه ټولټال عملیاتي لګښتونو د کمولو له لارې محاسبه کیږي. ناخالصې ګټې یا عایدات ټول هغه عاید څخه عبارت ده چې د یو محصول له خرڅلاو یا چوپړتیاوو وړاندې کولو څخه ترلاسه شوي وي.* | **D)** د عامه مرستې/ماشوم ملاتړ/نفقې عاید په اړه راپور ورکړئ. ټول هغه عاید په اړه راپور ورکړئ چې په غوښتنلیک کې د "عامه مرستې/ماشوم ملاتړ/نفقې" په خالي ځای کې ذکر شوي عاید باندې پلې کیږي. *د عامه مرستې د امتیازونو د نغدي ارزښت په اړه چې په چارټ کې لست شوي نه وي، راپور مه ورکوئ.* که چېرې عاید د ماشوم له ملاتړ یا نفقې څخه ترلاسه شوی وي، یوازې د محکمې لخوا امر شوو تادیاتو په اړه راپور ورکړئ. غیر رسمي مګر منظمو تادیاتو په اړه باید راتلونکې برخه کې د "بل" عاید په توګه راپور ورکړل شي. |
| **E)** د تقاعد له پیسو/تقاعد/نورو ټولو عایداتو څخه ترلاسه شوي عاید په اړه راپور ورکړئ. ټول هغه عاید په اړه راپور ورکړئ چې د غوښتنلیک "د تقاعد پیسې/تقاعد/نور ټول عاید" په خالي ځای کې پلې کیږي.<br>• ***که چېرې زه په دې کټګورۍ کې له څو سرچینو څخه عاید ترلاسه کړم نو څه؟*** *هره سرچینه په جلا ډول لست کړئ او خپل نوم او هرې سرچینې څخه ترلاسه شوی عاید په یوې نوې کرښه کې ولیکئ. د اړتیا په صورت کې بله پانه اضافه کړئ.* | **F)** **د کورنۍ د ټولې اندازې په اړه راپور ورکړئ.** د کورنۍ د ټولټال غړو شمېر د "د کورنۍ ټولټال غړي (ماشومان او لویان)" په خالي ځای کې ولیکئ. دا شمېره باید په **1** پړاو **او 3** پړاو **کې د کورنۍ د لست شوو غړو له شمېرې سره برابره وي.** که چېرې ستاسو د کورنۍ داسې غړي شتون ولري چې تاسو په غوښتنلیک کې لست کړي نه وي، بېرته ولاړ شئ او هغوی لست کړئ. د کورنۍ د ټولو غړو لست کول مهم دي، ځکه چې ستاسو د کورنۍ اندازه S-EBT لپاره ستاسو په شرایطو باندې براېروالی اغېزمن کوي. | |

## 4 پړاو: د اړیکې مالومات او د لوی کس لاسلیک

***ټول غوښتنلیکونه باید د کورنۍ د یو لوی کس لخوا لاسلیک شي. د غوښتنلیک په لاسلیک کولو سره، د کورنۍ نوموړی غړی ژمنه کوي چې ټول مالومات رښتیا او په اړه یې په بشپړ توګه راپور ورکړل شوی دی. د دې برخې بشپړولو څخه دمخه، مهرباني وکړئ دا ډاډ هم ترلاسه کړئ چې تاسو د غوښتنلیک په شا ته برخې کې موجودې د محرمیت او مدني حقوقونو بیانیې لوستلې دي.***

**د دې فورمې د بشپړولو څرنګوالی**

| | | | |
|---|---|---|---|
| **A)** د خپل اړیکي مالومات چمتو کړئ. په اړونده ځای کې خپله اوسنی پُستي پته ولیکئ که چېرې دا مالومات د لاسرسي وړ وي. که چېرې دایمي پته نلرئ، پروا نه کوي. د ټیلیفون د شمېرې، برېښنالیک، یا د دواړو شریکول اختیاري دي، مګر که موږ اړتیا ولرو چې تاسو سره اړیکه ونیسو دا له موږ سره مرسته کوي ترڅو تاسو سره ژر اړیکه ونیسو. | **B)** خپل نوم چاپ او لاسلیک کړئ او د نن ورځې نېټه ولیکئ. د غوښتنلیک لاسلیک کونکي لوی کس نوم چاپ کړئ او نوموړې کس "د لوی کس لاسلیک" باکس لاسلیک کوي.<br>*مهرباني وکړئ غوښتنلیک مستقیماً د خپل ماشوم ښوونځي ته وسپارئ. بشپړ شوي غوښتنلیکونه یا غوښتنلیکونو په اړه پوښتنې مدني حقونو لپاره د USDA د مرستیال سکرتر دفتر ته د پُست، فکس، یا برېښنالیک له لارې مه لیږئ که نه د S-EBT امتیازونو شرایطو ته ستاسو د ماشوم برابروالی ښایي وځنډیږي.* | **C) بشپړه شوې فورمه لاندې پتې ته وسپارئ:** د خپل ماشوم ښوونځی | **D)** د ماشومانو توکمیز او نژادي هویتونه شریک کړئ (اختیاري). د غوښتنلیک شا ته، موږ له تاسو څخه غواړو چې د خپلو ماشومانو د توکم او نژاد په اړه مالومات شریک کړئ. دا خالي ځای اختیاري دی او د S-EBT شرایطو ته ستاسو د ماشومانو په برابروالي باندې اغېزه نه کوي. |

یادداښت: که چېرې غوښتونکی د غوښتنلیک د پروسې په بشپړولو کې ستونزه ولري، د کورنی غړو څخه پرته یو بل غړی به د غوښتنلیک د پروسس د موخو لپاره د غوښتونکي د مجاز استازي په توګه وټاکل شي.